# ابراهیم

**مکی سورة دی ۵۲ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

الٓرۚ كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى
ٱلنُّورِ بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ﴿١﴾

**الف، لام، را.( په حقیقی معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی).**
**( ای پیغمبره!) دا کتاب مونږ تاته نازل کړی چې ته پرې خلک، د هغوی د رب په مرسته( د جهل، ګمراهۍ او طغیان) له تربږمیو نه ( د معرفت، عدالت او ایمان او په حقیقت کې) د برلاسی او ستایل شوی ذات(الله تعالی) لارې ته راوباسې.**

ٱللَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَوَيۡلٞ
لِّلۡكَٰفِرِينَ مِنۡ عَذَابٖ شَدِيدٍ ﴿٢﴾

**الله تعالی هغه ذات دی چې واکمنی او سلطنت یې د آسمانونو او ځمکې( کائناتو) په ټولو هستیو او موجوداتو حاوی او مسلط دی، او تباهی او شدید عذاب دی وی په کافرانو.**

ٱلَّذِينَ يَسۡتَحِبُّونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ وَيَصُدُّونَ
عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٖ ﴿٣﴾

**هغه کافران چې( د حماقت او ناپوهۍ له امله) یې د دنیا ژوند ته په آخرت ترجیح ورکړې، او خلک د الله تعالی له لارې( اسلام او د پیغمبر له اطاعت نه) راګرځوی او هڅه کوی چې الهی لار ورته کږه او غلطه معرفی کړی، بیشکه چې دوی( له حق نه ډیر) لیرې او په ګمراهۍ کې پراته دی.**

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوۡمِهِۦ لِيُبَيِّنَ لَهُمۡۖ
فَيُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلۡحَكِيمُ ٤

او مونږ هر قوم ته، د هغوی په ژبه پیغمبر ورلیږلی( چې د الهی وحې پیغام ورته په صراحت سره) بیان کړی، نو چاته چې الله تعالی اراده وکړی( د لجاجت او عناد په جرم یې) د ګمراهۍ په کندو سر شی، او چاته چې اراده وکړی د هدایت لاره ورته وربنایی، بیشکه چې الله تعالی (د خپلو احکامو په تطبیق او انفاذ) برلاسی او د پوره حکمت څښتن دی( چې ټول کارونه او اقدامات یې په حکمت او مصلحت ولاړ دی) .

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ أَنۡ أَخۡرِجۡ قَوۡمَكَ
مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ وَذَكِّرۡهُم بِأَيَّىٰمِ ٱللَّهِۚ إِنَّ فِي
ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ ٥

او مونږ، موسی هم له روښانه نښانو او دلایلو سره واستاوه( او ورته مو وحې وکړه) چې خپل قوم( د جهالت او ضلالت) له تاریکیو نه( د علم، ایمان او یقین) روښنایۍ ته راوباسه او د الله تعالی ورځې( چې هم د سختو حوادثو او مصائبو او بیا د نجات او نعمتونو څخه ډکې وې) هغوی ته وریاد کړه، بیشکه چې په دغو واقعاتو کې د هر مشکور صبر کوونکی لپاره( د الله تعالی د توحید، ربوبیت او قدرت) نښې پرتې دی.

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ
أَنجَىٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ
وَيُذَبِّحُونَ أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ نِسَآءَكُمۡۚ وَفِي
ذَٰلِكُم بَلَآءٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ ٦

او کله چې موسی خپل قوم ته وویل: د الله تعالی هغه نعمتونه یاد ساتئ چې تاسو یې د فرعونیانو له ظالمانه منګولو نه خلاص کړئ( له هغو فرعونیانو څخه) چې تاسو یې( د مرئیانو په څیر) په شدید ډول ربړولئ، ځامن

يې درته وژل او ښځې يې درته (د خپل بيګار لپاره د وينځو په حيث) ساتلې او په دې ټولو حوادثو کې ستاسو د رب لوی ازمېښت پروت و.

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ۖ وَلَئِن
كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ﴿٧﴾

( او موسی عليه السلام دا هم وويل چی ای بنی اسرائيلو!) هغه وخت په ياد ولرئ چې ستاسو رب اعلان وکړ، که( زما په شته نعمتونو او احسانونو شکر وباسئ زه به لا نور زيات هم درباندې ولوروم او که ناشکری وکړئ( نو پوه شئ چې) زما عذاب ډير سخت دی.

وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِن تَكْفُرُوٓاْ أَنتُمْ وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا فَإِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ
حَمِيدٌ ﴿٨﴾

او موسی( بنی اسرائيلو ته) وويل: که تاسو او د ځمکې ټول مخلوقات کافران شی( بياهم الله تعالی ته کوم زيان نشی رسولی ځکه) الله تعالی له هر چا بې نيازه او پخپله ستايل شوی ذات دی.

أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ
وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِمْ ۛ لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا ٱللَّهُ ۚ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم
بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَرَدُّوٓاْ أَيْدِيَهُمْ فِىٓ أَفْوَٰهِهِمْ وَقَالُوٓاْ إِنَّا كَفَرْنَا بِمَآ
أُرْسِلْتُم بِهِۦ وَإِنَّا لَفِى شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَنَآ إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٩﴾

آيا تاسو ته د هغو ولسونو( له عبرت نه ډک) خبر نه دی رسيدلی چې ستاسو نه پخوا تير شوی، د نوح قوم، عاديان او ثموديان، او له هغو نه وروسته تير شوی ولسونه چې( شمير او د ژوندانه د څرنګوالی کره معلومات يې) له الله تعالی نه غير له هيچا سره نشته. ( هغوی داسې ولسونه وو چې) پيغمبرانو يې ورته روښانه دلايل راوړل خو دوی( د اعتراض او استهزاء په توګه) په خپلو خولو لاسونه کيښودل( پيغمبران يې له تبليغ نه منع کړل او د الهی دعوت مخه يې ونيوله) او ورته يې وويل: مونږ هغه پيغام نه منو چې تاسو ورسره رالیږل شوی یاست او په هغه( توحيدی عقيده) هم شکمن يو چې تاسو ورته مونږ رابلئ.

۞ قَالَتۡ رُسُلُهُمۡ أَفِي ٱللَّهِ شَكّٞ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ
يَدۡعُوكُمۡ لِيَغۡفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُؤَخِّرَكُمۡ إِلَىٰٓ
أَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ قَالُوٓاْ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا
عَمَّا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتُونَا بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ١٠

پيغمبرانو يې وويل: آيا د الله تعالى په باب چې د آسمانونو او ځمکې مؤجد او پيدا کوونکی دی شک کوئ، هغه ذات چې تاسو ته( د ایمان) دعوت درکوی ترڅو ستاسو ګناهونه درته وبښی او تاسو ته تر ټاکلې نیټې د ژوند مهلت درکوی. دوی ځواب ورکړ چې تاسو خو زمونږ په شان انسانان یاست او غواړئ چې مونږ د خپلو هغو خدایانو له عبادت نه منصرف کړئ چې زمونږ پلرونونیکونو یې عبادت کاوه، نو تاسو( د خپل رسالت د اثبات لپاره قناعت ببښونکی) روښانه دلایل وړاندې کړئ.

قَالَتۡ لَهُمۡ رُسُلُهُمۡ إِن نَّحۡنُ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ
عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأۡتِيَكُم بِسُلۡطَٰنٍ إِلَّا
بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١١

پيغمبرانو يې ورته وويل: بیشکه چې مونږ ستاسو په شان انسانان یو، خو الله تعالى چې له خپلو بندګانو څخه چاته اراده وکړی د خپل خاص امتیاز( نبوت، رسالت،ولایت، علمیت او درایت) په مقام سره یې نازوی، او مونږ دا نه شو کولی چې د الله تعالى له اجازې نه غیر تاسو ته کومه معجزه وړاندې کړو او مؤمنان باید یوازې په الله تعالى توکل وکړی.

وَمَا لَنَآ أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى ٱللَّهِ وَقَدۡ هَدَىٰنَا سُبُلَنَاۚ وَلَنَصۡبِرَنَّ
عَلَىٰ مَآ ءَاذَيۡتُمُونَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ ١٢

او مونږ ولې په الله تعالى توکل ونه کړو، په داسې حال کې چې مونږ ته یې د ( ابدی نیکمرغۍ او هوسایۍ) لاره ښودلې، او مونږ به( د توحید د دعوت ) په لاره کې ستاسو له خوا رارسیدونکی ازار او اذیت هم په سړه سینه وزغمو او توکل کوونکی باید یوازې په الله تعالى توکل وکړی.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمۡ لَنُخۡرِجَنَّكُم مِّنۡ أَرۡضِنَآ أَوۡ
لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۖ فَأَوۡحَىٰٓ إِلَيۡهِمۡ رَبُّهُمۡ لَنُهۡلِكَنَّ
ٱلظَّٰلِمِينَ ١٣

خو كافرانو، خپل پيغمبران وګواښل چې كه بيرته زمونږ دين ته را ونه ګرځئ، له خپلې خاورې به مو وشړو. همدا وخت و چې الله تعالی پيغمبرانو ته وحې وكړه چې مونږ به د ظالمانو جرړې وباسو.

وَلَنُسۡكِنَنَّكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَافَ مَقَامِي
وَخَافَ وَعِيدِ ١٤

او په يقينی توګه به تاسو( او ستاسو مخلص پيروان) په همدغه ځمكه كې استوګن( او واكداران) كړو.( دغه رحمت او مهربانی) يوازې د هغه چا په برخه ده چې زما مقام ته له احضاريدو فكر ورسره وی او زما د ( عذاب) له تهديده يې زړونه رېږدی.

وَٱسۡتَفۡتَحُواْ وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٖ ١٥

او پيغمبرانو الله تعالی ته د فتحې او برلاسئ لپاره دعا وكړه ( چې په استجابت سره يې) هر متكبر سركش( خپل ناوړه هدف ته له رسيدو) مأيوس او ناكام پاتې شو.

مِّن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسۡقَىٰ مِن مَّآءٖ صَدِيدٖ ١٦

( له مرګ نه وروسته يې) مخې ته جهنم دی چې هلته به ورباندې د وينو او زوو نه ډكې بوينې اوبه ورځښل كيږی.

يَتَجَرَّعُهُۥ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُۥ وَيَأۡتِيهِ ٱلۡمَوۡتُ مِن كُلِّ
مَكَانٖ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٖۖ وَمِن وَرَآئِهِۦ عَذَابٌ غَلِيظٞ ١٧

ګوټ ګوټ به يې( په زور او جبر) څښی خو له ستونو به يې تيرولی نشی، له هر لوری به ورباندې د مرګ ناتار ګډ وی خو مرګ به نه وی( بلكه هره شيبه به د يوه نوی) شديد عذاب له ځپې سره مخ وی.

مَّثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡۖ أَعۡمَٰلُهُمۡ كَرَمَادٍ ٱشۡتَدَّتۡ بِهِ ٱلرِّيحُ
فِي يَوۡمٍ عَاصِفٖۖ لَّا يَقۡدِرُونَ مِمَّا كَسَبُواْ عَلَىٰ شَيۡءٖۚ ذَٰلِكَ هُوَ
ٱلضَّلَٰلُ ٱلۡبَعِيدُ ١٨

هغه کسان چې له خپل رب نه منکر دی، د اعمالو حال یې هغو ایرو ته ورته دی چې په یوه توپانی ورځ پرې سخته سیلۍ راوالوزی او داسې یې پوپنا کړی چې دوی یې بیرته راټولولی ونشی (د وی هم له خپلو خیریه چارو څخه د قیامت په ورځ) هیڅ اجر او ثواب نشی ترلاسه کولی او همدا یې ده په ګمراهۍ کې د افراط نتیجه.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ إِن يَشَأۡ
يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَأۡتِ بِخَلۡقٖ جَدِيدٖ ١٩

(ای انسانه) ته په دې نه پوهیږې چې الله تعالی آسمانونه او ځمکه په حقه( او په ځانګړی نظم او حساب) پیدا کړی او که اراده وکړی تاسو به له منځه یوسی او په ځای به مو نوی خلک راولی.

وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٖ ٢٠

او دا( کار) الله تعالی ته هیڅ سخت نه دی.

وَبَرَزُواْ لِلَّهِ جَمِيعٗا فَقَالَ ٱلضُّعَفَٰٓؤُاْ لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا كُنَّا
لَكُمۡ تَبَعٗا فَهَلۡ أَنتُم مُّغۡنُونَ عَنَّا مِنۡ عَذَابِ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۚ قَالُواْ لَوۡ
هَدَىٰنَا ٱللَّهُ لَهَدَيۡنَٰكُمۡۖ سَوَآءٌ عَلَيۡنَآ أَجَزِعۡنَآ أَمۡ صَبَرۡنَا مَا لَنَا
مِن مَّحِيصٖ ٢١

او( د قیامت په ورځ) چې ټول د الله تعالی په وړاندې( په الهی محکمه کې حاضر او) راڅرګند شی نو هغه کمزوری او بې وزله خلک به( چې په پټو سترګو یې د خپلو متکبرو او مشرکو مشرانو تابعداری کوله) خپلو بادارانو ته ووایی: مونږ خو په دنیا کې( په پټو سترګو) ستاسو اطاعت کړی نو تاسو خو هم نن(زمونږ د غلامۍ او خدمتونو په بدل کې) د الله تعالی د عذاب څه برخه له مونږ نه کمه کړی، هغوی به ورته ووایی: که

الله تعالى مونږ ته د عذاب نه د خلاصون کومه لاره راښودلی وای، مونږ به هم تاسو ته لارښوونه کړی وای. اوس زمونږ چيغې سورې او صبر او زغم دواړه يو دی او په هيڅ صورت مو د نجات لاره نشته.

وَقَالَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لَمَّا قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ إِنَّ ٱللَّهَ وَعَدَكُمۡ وَعۡدَ ٱلۡحَقِّ
وَوَعَدتُّكُمۡ فَأَخۡلَفۡتُكُمۡۖ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيۡكُم مِّن سُلۡطَٰنٍ إِلَّآ أَن
دَعَوۡتُكُمۡ فَٱسۡتَجَبۡتُمۡ لِيۖ فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوٓاْ أَنفُسَكُمۖ مَّآ أَنَا۠
بِمُصۡرِخِكُمۡ وَمَآ أَنتُم بِمُصۡرِخِيَّۖ إِنِّي كَفَرۡتُ بِمَآ
أَشۡرَكۡتُمُونِ مِن قَبۡلُۗ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٢٢

(او چې په الهی محکمه کې د هر چا د حساب کتاب) پريکړه وشی، شيطان به خپلو پيروانو ته ووايی: بيشکه چې( د قيامت او حساب کتاب، پحقله) ستاسو سره د الله تعالى وعده رښتونی وه خو ما درسره په وعده وفا ونه کړه. البته ما په تاسو کوم زور او تسلط نه درلود بلکه يوه بلنه مې درکوله( او د الله تعالى نافرمانئ ته به مې هڅولی ياست) نو اوس پړه په ما، مه اچوئ بلکه خپل ځانونه ملامت او پړه وبولئ، نه زه ستاسو فرياد اوريدلی شم او نه تاسو زما د درد دوا کيدلی شئ. زه نن ستاسو له هغه شرک نه( چې د الله تعالى په مقابل کې مو زما اطاعت کاوه) بيزاره او منکر يم. بيشکه چې( د شيطان او د هغه د پيروانو) ظالمانو لپاره دردوونکی عذاب برابر شوی دی.

وَأُدۡخِلَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن
تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡۖ تَحِيَّتُهُمۡ فِيهَا سَلَٰمٌ ٢٣

او هغه کسان چې ايمان يې راوړی او ورسره نيک عمله هم دی، هغو جنتونو ته به ننوزی چې( د الهی نعمتونو) رودونه پکې روان دی او هم هلته به د خپل رب په حکم تلپاتې ژوند ولری او د سلام په ويلو به يې هرکلی کيږی.

أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا كَلِمَةٗ طَيِّبَةٗ كَشَجَرَةٖ طَيِّبَةٍ
أَصۡلُهَا ثَابِتٞ وَفَرۡعُهَا فِي ٱلسَّمَآءِ ٢٤

ای انسانه! نه وینې چې الله تعالی د پاکې او طیبې کلمې څومره غوره مثال بیانوی (او فرمایي چې) پاکه طیبه کلمه( د الله تعالی په وحدانیت عقیده) لکه د پاکې ونې په شان ده چې زیلې او ریښې یې ټینګې او مستحکمې او څانګې یې آسمان ته لوړې شوې دی.

تُؤْتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينِۢ بِإِذْنِ رَبِّهَاۗ وَيَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ
لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٥﴾

د خپل رب په امر سروکال میوه ورکوی او الله تعالی دا مثالونه بیانوی ترڅو خلک ترې د عبرت درس واخلی.

وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ ٱجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ ٱلْأَرْضِ
مَا لَهَا مِن قَرَارٍ ﴿٢٦﴾

او ناپاکه خبیثه خبره (باطله او کفری عقیده د مره غونی د بد بویه او بدخونده ونې په څیر) هغې خبیثې ونې ته ورته ده چې ریښې یې له ځمکې راایستل شوی وی او هیڅ استحکام او استقرار نه لری.

يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱلْقَوْلِ ٱلثَّابِتِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا
وَفِى ٱلْءَاخِرَةِۖ وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّٰلِمِينَۚ وَيَفْعَلُ ٱللَّهُ مَا
يَشَآءُ ﴿٢٧﴾

الله تعالی، مؤمنان( د سپیڅلی ایمان او اعتقاد په برکت) په دنیوی ژوند او آخرت کې، ثابت قدم او غښتلی ساتی. او ظالمان( کفار او مشرکین چې په لجاجت او عناد سره یې د الهی آیتونو مخالفت کړی له دغې سپیڅلې عقیدې نه) بې برخې کوی. او هر کار ته چې الله تعالی اراده وکړی( د خپل حکمت په اساس یې) سرته رسوی.

۞ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ بَدَّلُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ كُفْرًا وَأَحَلُّوا۟ قَوْمَهُمْ دَارَ
ٱلْبَوَارِ ﴿٢٨﴾

( ای پیغمبره!) آیا هغو( کافرو او مشرکو مشرانو په تیره بیا د قریشو رئیسانو) ته نه ګورې چې( الله تعالی ورته څومره لوی امتیازات ورکړی، محمد صلی الله علیه وسلم یې پکې د نبوت مقام ته ورساوه، عظیم الشأن قرآن یې ورته نازل کړ، د کعبې شریفې مجاوریت یې ورکړ او بالاخره یې د ټولې عربی نړۍ مشری دوی ته وسپارله خو دوی د دې) ټولو الهی نعمتونو په مقابل کې کفران او ناشکری وکړه او خپل قوم یې( کفر او شرک ته په رابللو سره) د هلاکت او بربادی کندې ته وغورزاوه.

جَهَنَّمَ يَصۡلَوۡنَهَاۖ وَبِئۡسَ ٱلۡقَرَارُ ٢٩

( د هلاکت او بربادۍ کنده) هماغه دوزخ دی چې دوی به ورته غورزول کیږی او واقعاً چې تر ټولو بد او زورورونکی استوګنځی دی.

وَجَعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا لِّيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِهِۦۗ قُلۡ تَمَتَّعُواْ فَإِنَّ مَصِيرَكُمۡ إِلَى ٱلنَّارِ ٣٠

او د الله تعالی په مقابل کې یې نور باطل خدایان درولی، ترڅو وربانديې خلک( د الله د توحید له حقې لارې) منحرف او ګمراه کړی. ورته ووایه:( څو په شمار ورځې د دنیا د فانی ژوند له عیش او عشرت نه) خوندونه واخلئ خو (باور ساتئ چې) بیرته به د دوزخ اور ته ورګرځئ.

قُل لِّعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خِلَٰلٌ ٣١

زما مؤمنو بندګانو ته ووایه: لمونځونه قایم وساتئ او له هغې شتمنی نه چې تاسو ته مو درکړې، په پټه او ښکاره صدقه او خیرات ورکړئ، وړاندې له هغې ورځې چې نه پکې ( تجارتی او اقتصادی) راکړه ورکړه وی او نه پکې د دوستی او آشنایی اړیکی.

ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡفُلۡكَ لِتَجۡرِيَ فِي ٱلۡبَحۡرِ بِأَمۡرِهِۦۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡأَنۡهَٰرَ ٣٢

همدا د الله تعالی ذات دی چې آسمانونه او ځمکه (کائنات) یې پیدا کړی، له آسمانه اوبه راوروی چې تاسو ته پرې د(غلو دانو او) میوو محصولات درکوی، کشتی یې ستاسو په واک کې درکړې چې د خپل رب په امر پرې په بحرونو کې سفرونه کوی او سیندونه او ویالې یې هم ستاسو په واک او اختیار کې درکړل.

وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ
وَٱلنَّهَارَ ﴿٣٣﴾

**لمر او سپوږمۍ يې چې د يوې خاصې محاسبې په اساس فعاليت كوى، ستاسو لپاره ګټور كړل او شپه ورځ يې هم درته تابع كړل.**

وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِن تَعُدُّوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ لَا
تُحْصُوهَآ ۗ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴿٣٤﴾

**او څه چې تاسو( د خپلو اړتياو له مخې) له هغه نه غوښتى، ټول يې دركړى، او كه د الله تعالى نعمتونه وشميرئ( ستړى به شئ) خو تر پايه به يې شميره ونشئ رسولى. بيشكه چې انسان له حده تيرى كوونكى او ناشكره دى( چې د دومره بې شميره احساناتو او نعمتونو په ليدلو سره بياهم د خپل حقيقى منعم حق نه پيژنى او شكر يې نه اداء كوى).**

وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَٰذَا ٱلْبَلَدَ ءَامِنًا وَٱجْنُبْنِى وَبَنِىَّ
أَن نَّعْبُدَ ٱلْأَصْنَامَ ﴿٣٥﴾

**او كله چې ابراهيم وويل: اى ربه! دغه د ( مكې) ښار د امن د سيمې په حيث اعلان كړه او ما او زما اولاده له بت پرستئ نه ليرې وساته.**

رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ ۖ فَمَن تَبِعَنِى فَإِنَّهُۥ مِنِّى ۖ وَمَنْ
عَصَانِى فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٦﴾

**اى ربه! دغو( ډبرينو) بتانو ډير خلك ګمراه كړل، نو څوك چې( ستا د وحدانيت په منلو كې) زما پيروى كوى بيشكه چې زما له ډلې دى او څوك چې زما نافرمانى كوى( ښښنه يې ستا په رحمت او مهربانئ پورې تړلې ده) ځكه ته ډير زيات ښښونكى او مهربان ذات يې.**

رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ
ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهۡوِيٓ
إِلَيۡهِمۡ وَٱرۡزُقۡهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡكُرُونَ ٣٧

**ای ربه! ما خپل یو شمیر بچیان( اسماعیل او د هغه کورنۍ) ستا محترم کور ته څیرمه په یوه وچه شاړه دره کې میشت کړل. ای ربه! دا د دې لپاره چې دوی لمونځونه قایم کړی، نو د یو شمیر خلکو زړونه د هغوی په لور رامات کړه او( د غلو دانو او اوبو نه علاوه)یې هر ډول میوې( او نعمتونه په کثرت سره) په برخه کړه.**

رَّبَّنَآ إِنَّكَ تَعۡلَمُ مَا نُخۡفِي وَمَا نُعۡلِنُۗ وَمَا يَخۡفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖ فِي
ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ٣٨

**ای ربه، زمونږ پټ او ښکاره اعمال ټول تاته ښه معلوم دی او په ځمکه او آسمان کې هیڅ شی له الله تعالی نه پټ نه دی.**

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى ٱلۡكِبَرِ إِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَۚ إِنَّ
رَبِّي لَسَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ٣٩

**ټوله ثنا او ستاینه یوازې د الله تعالی ذات ته ځانګړې ده چې ما عمر خوړلی ته یې اسماعیل او اسحاق راوبښل، بیشکه چې زما رب د دعاو اوریدونکی( قبلوونکی) دی.**

رَبِّ ٱجۡعَلۡنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ
دُعَآءِ ٤٠

**ای ربه! ما په لمانځه قایموونکی وساته او اولادونو ته مې هم( د لمانځه د قیام توفیق ورپه برخه کړه) او ای زما ربه! دعا مې قبوله کړه.**

رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡحِسَابُ ٤١

**ای زما ربه! د حساب کتاب په ورځ، ما او زما پلار او مور او ټولو مؤمنانو ته بښنه وکړه.**

وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱللَّهَ غَٰفِلًا عَمَّا يَعْمَلُ ٱلظَّٰلِمُونَ ۚ إِنَّمَا
يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ ٱلْأَبْصَٰرُ ﴿٤٢﴾

( ای انسانه! ) گومان مه کوه چې الله تعالی د ظالمانو له کړنو بې خبره او غافل دی، بلکه د هغوی( مجازات) هغې ورځې ته ځنډېدلی چې سترګې پکې( له هیبت او دهشت نه) راوتلې او بې حرکته پاتې وی.

مُهْطِعِينَ مُقْنِعِى رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ ۖ وَأَفْـِٔدَتُهُمْ
هَوَآءٌ ﴿٤٣﴾

( ویریدونکی او دهشت وهوونکی به د قیامت محکمې ته) په منډو وی، سرونه به یې اوچت نیولی( او سترګې به یې یوازې د محشر په لوری ځیر وی) چې رپ به نه وهی او زړونه به یې( د عذاب له ویرې ډوب ډوب کیږی او له تدبر او تعقل نه به کاملاً) خالی وی.

وَأَنذِرِ ٱلنَّاسَ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ ٱلْعَذَابُ فَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ رَبَّنَآ
أَخِّرْنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ ٱلرُّسُلَ ۗ أَوَلَمْ
تَكُونُوٓا۟ أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴿٤٤﴾

او( ای پیغمبره!) خلک د هغې ورځې له راتګه وویروه، چې( که له کوم آفت او مصیبت سره مخامخ شی او یا د ځنکدن په وخت ورته) عذاب راشی نو ظالمان به ووایی: ای زمونږ ربه! مونږ ته د لنډې مودې لپاره مهلت راکړه چې ستا دعوت ومنو او ستا د رسولانو اطاعت وکړو.( خو په ځواب کې به ورته وویل شی:) تاسو هماغه نه یاست چې په قسمونو به مو ویل هیڅکله به زوال و نه مومئ.

وَسَكَنتُمْ فِى مَسَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ
لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ ٱلْأَمْثَالَ ﴿٤٥﴾

او تاسو د هغو کسانو په کورونو کی هستوګن شوی وئ چې په ځانونو یې ظلم کړی و، او داهم درته معلومه وه چې بیا مونږ هغوی ته څنګه سزا ورکړې وه، او تاسو ته مو د هغو ولسونو عبرتناکی کیسې هم بیان کړې وې چې زمونږ( د عذاب) په وسیله تباه شوی وو.

وَقَدۡ مَكَرُواْ مَكۡرَهُمۡ وَعِندَ ٱللَّهِ مَكۡرُهُمۡ وَإِن كَانَ
مَكۡرُهُمۡ لِتَزُولَ مِنۡهُ ٱلۡجِبَالُ ﴿٤٦﴾

**او هغوی( د الله تعالی او پیغمبرانو په ضد) هر ډول دسیسې او چلوټې پکار واچولې چې ټولې الله تعالی ناکامې کړې. آیا د دوی دسیسې به غرونه له خپلو ځایونو وخوځولی شی؟( یعني آیا د الله تعالی رسولان او د هغوی حقه دعوت چې له غرونو څخه هم ټینګ او مستحکم دی د دوی د مکاریو او چلوټو په مقابل کې به متاثر او متضرر شی؟ حاشاً و کلاً ) .**

فَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱللَّهَ مُخۡلِفَ وَعۡدِهِۦ رُسُلَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٞ ذُو
ٱنتِقَامٖ ﴿٤٧﴾

**نو داسې ګومان مه کوه چې الله تعالی به له پیغمبرانو سره پخپله وعده وفا ونه کړی، بیشکه چې الله تعالی په هر کار برلاسی او انتقام اخستونکی ذات دی.**

يَوۡمَ تُبَدَّلُ ٱلۡأَرۡضُ غَيۡرَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُۖ وَبَرَزُواْ لِلَّهِ ٱلۡوَٰحِدِ
ٱلۡقَهَّارِ ﴿٤٨﴾

**( او دوی له هغې ورځې وویروه چې) دا ځمکه په بله ځمکه او آسمانونه( په نورو آسمانونو) بدل شی او ټول خلک په( لوی هوار میدان کې) د الله تعالی حضورته احضار شی.**

وَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ يَوۡمَئِذٖ مُّقَرَّنِينَ فِي ٱلۡأَصۡفَادِ ﴿٤٩﴾

**او مجرمین به په زولنو او ځنځیرونو ټینګ تړل شوی ووینې .**

سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٖ وَتَغۡشَىٰ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ ﴿٥٠﴾

**له( اور اخستونکو موادو) قطران څخه جوړ شوی کمیسونه به یې په تن وی او مخونه به یې د اور په لمبو پوښلی وی.**

لِيَجۡزِيَ ٱللَّهُ كُلَّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ
ٱلۡحِسَابِ ﴿٥١﴾

او په دې ډول به الله تعالی هرچا ته د هغه د عمل سزا ورکړی، بیشکه چې د  الله تعالی د حساب کتاب سیستم ډیر چټک دی.

هَٰذَا بَلَٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُوا۟ بِهِۦ وَلِيَعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٥٢﴾

دا قرآن( یا د دې سورت محتویات) ټولو خلکو ته له اخطاره ډک پیغام ابلاغوی ترڅو( په فکر او تدبر سره) وپوهیږی چې الله تعالی  یوازینی  واحد او لاشریک  ذات دی او په حقایقو پوهیدونکی کسان باید له دغو آیتونو څخه پند او عبرت واخلی.

« تمت سورة ابراهیم علیه السلام  ولله الحمد»

========================